هفته نامه
معارف اوونیزه
د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه
سال تأسیس: ۱۴۲۳ هـ ق. مطابق ۱۳۸۱ هـ ش. شماره مسلسل (۳۲۴) ماه ذی‌القعدة ۱۴۴۷ هـ‌ق. مطابق ماه ثور ۱۴۰۵ هـ. ش.

**ښوونه او روزنه د الله تعالی د پېژندنې لاره ده**

## د پوهنې وزارت له لوري د یو شمېر خصوصي ښوونځیو مسؤلین وستایل شول

پوهنې وزارت د یو شمېر مخکښو خصوصي ښوونځیو مسئولین د هغوی د اغېزناکو او معیاري کړنو له امله وستایل.

په هغه غونډه کې چې له همدې امله د خصوصي زده کړو ریاست په تالار کې جوړه شوې وه د خصوصي زده کړو رئیس محترم قاري عبدالباسط حقاني د خپلو خبرو په ترڅ کې د پوهنې په ډگر کې د خصوصي ښوونیزو بنسټونو هڅې او همکارۍ وستایلې.

په همدې حال کې د خصوصي ښوونځیو مدیرانو د پوهنې وزارت د مسئولینو له هڅونې او ستاینې مننه وکړه او خپل وړاندیزونه او نظریات یې له مسئولینو سره شریک کړل.

د یادونې وړ ده چې د پوهنې وزارت د ارزونو او موندنو پر بنسټ، د هرات، بلخ، ننگرهار او کابل ښار اړوند ۱۲ بابه خصوصي ښوونځي زده‌کوونکو ته په کمي او کیفي برخو کې د غوره ښوونیز او روزنیزو خدمتونو او آسانتیاوو وړاندې کولو له امله د مخکښو ښوونځیو په توگه وپېژندل شول او مدیران یې د پوهنې وزارت لخوا په ستاینلیکونو وستایل شول.




# د ښوونې او روزنې معین لخوا په کابل ښار کې د یو شمېر ښوونځیو ښوونیز او اداري بهیر و ارزول شو



په ښوونځیو او ښوونیزو مرکزونو کې د اداري او تدریسي چارو د لا ښه والي په موخه د څارنې په لړ کې د ښوونې او روزنې معین محترم شیخ عبدالمالک حقاني په مشرۍ پلاوي د کابل ښار دولسمې ښوونیزې ناحیې اړوند پلچرخي عالي لیسې، اوومې او درېیمې ناحیې اړوند له حبیبې عالي لیسې او صوفیه خصوصي ښوونځي څخه لیدنه او څارنه وکړه.

په یاده لیدنه کې د ښوونځیو اداري او تدریسي بهیر، د درسونو کیفیت، د نصاب تطبیق، د زده‌کوونکو گډون او د ښوونکو د تدریسي میتودونو د ارزونې تر څنگ په ښوونځیو کې د نظم او اداري همغږۍ څخه هم ارزونه وشوه. یاده ارزونه د پوهنې وزارت د دوامداره پلان له مخې ترسره کېږي، چې په راتلونکي کې به هم د ملک په نورو ولایتونو کې دوام ومومي.

## گذاشتن سنگ تهداب یک باب مکتب در بدخشان

سنگ تهداب ساخت تعمیر مکتب ابتدائیه کاسه تراش در ولسوالی یفتل پایین ولایت بدخشان از سوی محترم الحاج مولوی محمد طاهر جواد رئیس معارف آن ولایت گذاشته شد.

مسئولان ریاست معارف بدخشان می گویند این مکتب که دارای ۶ صنف درسی با سایر ملحقات آن میباشد در پنج جریب زمین که قبلا برای این مکتب از سوی باشنده گان این محل وقف شده بود به هزینه حدود ۲ میلیون افغانی به کمک مالی اهالی این ساحه ساخته خواهد شد.

رئیس معارف این ولایت در سخنان شان از همکاری مردم با معارف اظهار قدردانی نموده و حمایت مردم را در تقویت نظام آموزشی ارزشمند خواند. به گفته رئیس معارف با ساخت این مکتب برای صدها تن از فرزندان محل که آینده سازان افغانستان هستند زمینه آموزش در فضای مناسب تعلیمی فراهم خواهد شد.

## د میدان وردک ولایت پوهنې ریاست په تېر کال کې زرگونه شهادتنامې په زده کوونکو وېشلي




د میدان وردگ ولایت د پوهنې ریاست مسئولین وایي چې په تېر ۱۴۰۴ هـ ل کال کې یې ۷۴۷۷ شهادتنامې جوړې او د دولسم ټولگیو په فارغ شوو زده‌کوونکو وېشلې دي.

د یاد ولایت پوهنې ریاست مسئولین زیاتوي چې د شهادتنامو د ترلاسه کولو بهیر د برېښنایي سیستم له لارې آسانه شوی او زده‌کوونکي کولی شي په لنډه موده کې د خپل فراغت تائید شوي اسناد ترلاسه کړي.

د مسئولینو په وینا، د شهادتنامو د ترلاسه کولو فیس ۲۰۰ افغانۍ ټاکل شوی، چې ټول عواید یې د دولت خزانې ته لېږدول کېږي.

## د هرات په انجیل ولسوالۍ کې یو باب ښوونځی پرانیستل شو

د هرات ولایت، انجیل ولسوالۍ اړوند په شادي جان کلي کې د ابوعلي سینا منځني ښوونځي نوې ودانۍ د یو لړ مراسمو په ترڅ کې پرانیستل شوه.

یاده ودانۍ د شاوخوا ۳ مېلیونه او ۵۸۴ زره افغانیو په لگښت د یوه همکار بنسټ له لوري جوړه شوې چې ٦ درسي ټولگي او یوه اداري خونه لري.

د یاد ولایت د پوهنې ریاست مسئولین وایې: د دې ودانۍ په جوړېدو سره به زده‌کوونکو ته د زده کړې مناسب، خوندي او معیاري تعلیمي چاپېریال برابر شي.

همدارنگه، د ورته پروژو پلي کېدل به د ښوونې بهیر د پیاوړتیا او د زده‌کوونکو د جذب په زیاتوالي کې مهم رول ولري.

## سنگ تهداب یک باب مدرسه دینی در ولایت سرپل گذاشته شد



سنگ تهداب تعمیر جدید مدرسه دینی منبع‌العلوم روحانیه در ولسوالی سیدآباد ولایت سرپل در مساحت نیم جریب زمین که از سوی یک‌تن از اهالی معارف‌دوست محل وقف شده بود با حضور مسئولان معارف آن ولسوالی گذاشته شد.

بر اساس معلومات مسئولان ریاست معارف سرپل این تعمیر در یک طبقه که دارای ٦ صنف درسی و ۲ باب اطاق اداری میباشد ساخته خواهد شد که هزینه مجموعی ساخت آن حدود ۶۵۰ هزار افغانی تخمین شده است.

مسئولان معارف آن ولایت می افزایند، ساخت این مدرسه می‌تواند نقش ارزنده‌ای در بهبود دسترسی اطفال به تعلیمات دینی و عصری ایفا کند و زمینه مناسب تعلیم و تربیه را برای طُلاب العلم در این ولسوالی فراهم خواهد ساخت.

## په غزني ولایت کې د یوې دیني مدرسې لپاره د یو محراب جومات جوړولو چارې پیل شوې



د غزني ولایت د اندړو ولسوالۍ په فیض‌القرآن مدرسه کې د یو محراب جومات جوړولو دبنسټ ډبره کېښودل شوه.

په هغه مراسمو کې چې له همدې امله جوړ شوي وو، د غزني ولایت د پوهنې رئیس محترم الحاج مولوي میر نصیر احمد حسیني او د سیمې یو شمېر علماءکرامو او مسئولینو په کې گډون کړی وو. یاد جومات چې د نږدې یو میلیون افغانیو په لگښت د سیمې د اوسېدونکو په مالي مرسته د یادې ولسوالۍ د حاجي معلم یرگټو په سیمه کې جوړېږي، د دیني زده‌کړو د ودې په برخه کې مهم گام بلل کېږي.

د غزني پوهنې رئیس وایي چې د یاد جومات جوړېدل به د عبادت تر څنگ د طلابو لپاره د دیني زده‌کړو د وده لامل شي.

### در این شماره

د ښوونیز بهیر ارزونه د زده کړې د کیفیت ښه والي په لور اغېزمن گام — مخ ۲
د پوهنې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست د فعالیتونو اوونیز راپور — مخ ۲
لوی فکر وکړه! — مخ ۳

سرلیکنه

## د ښوونیز بهیر ارزونه د زده کړې د کیفیت ښه والي په لور اغېزمن ګام

بسم الله الرحمن الرحیم
اَلحَمدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلَوٰةُ وَالسَّلامُ عَلَی سَيِّدِالمُرسَلِينَ وَ عَلَی آلِهِ وَأَصحَابِهِ أَجْمَعِيْنَ

د نوي ښوونیز کال له پیل سره سم د پوهنې وزارت له لوري د ښوونځیو اداري، د تدریسي چارو د ارزونې بهیر پیل شوی. د مسئولینو له لوري د یاد بهیر پیل د ښوونیز نظام د لا ښه والي او کیفیت لوړولو په برخه کې اړین او ارزښتناک ګام بلل کېږي ځکه د یوه نظام د دوامداره ودې لپاره د فعالیتونو ارزونه، د نیمګړتیاوو پېژندنه او د اصلاح لپاره یې عملي لارو چارو لټول مهم دي.

د ارزونې دا لړۍ کولی شي د ښوونیز نظام د پرمختک لپاره یو پیاوړی بنسټ کېږدي. دا بهیر نه یوازې دا چې د ښوونځیو د عمومي وضعیت کره او دقیق معلومات وړاندې کوي، بلکې د زده کوونکو علمي کچې او استعدادونو ارزول هغه څه دي چې د هر ښوونیز نظام اساسي موخه ګڼل کېږي.

کله چې ښوونیز بهیر ارزول کېږي نو د تدریس کیفیت ته هم جدي پاملرنه کېږي. دا بهیر ښوونکي هڅوي چې له دودیزو او کم اغېزه تدریسي میتود پر ځای نوې، اغېزمنې او د زده کوونکو له اړتیاوو سره سمې لارې چارې غوره کړي، په پایله کې د زده کړې کچه لوړېږي او زده کوونکي په ښه ډول زده کړه کولای شي.

سربېره پر دې ارزونه د زده کوونکو د ستونزو د دقیقې پېژندنې لپاره یوه اغېزمنه وسیله ده، ځکه چې له دې لارې څرګندېږي چې زده کوونکي په کومو مضمونونو کې بر لاسي او په کومو مضمونونو کې مرستې ته اړتیا لري، د دوی د زده کړې خنډونه څه دي او څه ډول ملاتړ ته اړتیا لري.

د ارزونې بله مهمه برخه دا ده چې تعلیمي تګلارې جوړوونکو ته کره او پر واقعیتونو ولاړ معلومات چمتو کوي، څو د پرېکړو پر مهال له اټکل او ګمان څخه کار وانخلي، بلکې پر شواهدو تکیه وکړي. کله چې په ښوونځیو کې د ښوونکو او زده کوونکو په اړه کره معلومات شتون ولري، نو د سرچینو وېش عادلانه کېږي، اصلاحات هدفمند او هغه سیمې یا برخې چې زیاتې پاملرنې ته اړتیا لري، په آسانۍ سره پېژندل کېږي.

له بل پلوه د ښوونیز بهیر ارزونه او حساب ورکونه روڼتیا ته زمینه برابروي او له دې سره به هره کړنه مسئولانه، پر وخت او د لاسته راوړنو ډکه وي. دا کار به نه یوازې په اداره کې نظم ټینګ کړي بلکې هر کارکوونکی به په خپلو دندو کې مسئول او ژمن وي.

په پایله کې به د ټولنې باور هم پیاوړی شي. ځکه چې خلک ډاډ تر لاسه کوي چې د هغوی د اولادونو تعلیم په جدي توګه څارل کېږي. په اوږدمهال کې دا بهیر کولی شي د تعلیمي نظام پر وړاندې د خلکو اعتماد لوړ کړي او هغوی وهڅوي چې له مدرسو او ښوونځیو سره لا زیاته همکاري وکړي.

په ټوله کې، د ښوونیز بهیر د ارزونې لړۍ د یو فعال، لوړ کیفیت لرونکي او پرمختللي تعلیمي نظام بنسټ جوړوي، ځکه چې دا بهیر یوازې د ستونزو موندلو لپاره نه دی، بلکې د حل لارو د پیدا کولو، د بریالیو تجربو د پراخولو او د دوامداره پرمختګ د تضمین لپاره هم کار کوي نو تمه کېدای شي چې د ښوونې او روزنې کیفیت به په څرګند ډول لوړ شي، د زده کوونکو ستونزې به په اغېزمن ډول حل شي او د ملک ښوونیز نظام به د پرمختګ پر لور غښتلي ګامونه پورته کړي.

## د پوهنې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست د فعالیتونو اوونیز راپور

د پوهنې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست مسئولینو د کابل ښار د دریېمې او پنځمې ښوونیزو ناحیو اړوند ښوونیزو مرکزونو هریو خاتم‌النبیین، صباح او مورا خصوصي ښوونځیو څخه لیدنې ترسره کړې.

د دغو لیدنو پر مهال د زده‌کوونکو سیرت، صورت، نظم او اخلاقي وضعیت په هر اړخیز ډول وارزول شو او د ښوونیز چاپېریال لا ښه‌والي په موخه ورته لازمې لارښوونې او سپارښتنې وړاندې شوې.

همداراز، د ښوونیز بهیر د کیفیت لوړولو په موخه د تقویتي نصاب په ځینو برخو کې د اصلاح او تعدیل هدایات ورکړل شول، ترڅو د زده‌کوونکو دیني، اخلاقي او فکري روزنه لا پیاوړې او د ښوونې او روزنې بهیر په اغېزمن ډول پر مخ ولاړ شي. په ورته مهال، د یادو ښوونیزو مرکزونو لپاره د دعوت او ارشاد د فعالیتونو د منظم تطبیق په موخه مناسب مبلغین وټاکل شول، تر څو د دعوت او ارشاد د نصاب د تدریس چارې پر مخ یوسي او د زده‌کوونکو تر منځ فکري، اخلاقي او اصلاحي بهیر لا پیاوړی شي.

سربېره پر دې، د دعوت او ارشاد ریاست مسئولینو لخوا، د پوهنې وزارت مرکزي هستې اړوندو کارکوونکو ته مهم شرعي مسایل تشریح او اصلاحي بیانونه هم ترسره شول، چې موخه یې د ښوونیزو مرکزونو د منسوبینو او کارکوونکو د دیني پوهې لوړول، د نصاب د ښه تطبیق تضمین او د اصلاحي فعالیتونو پیاوړتیا وه.

د پوهنې وزارت له ولایتي ریاستونو ترلاسه شوي معلومات ښیي، چې د دعوت او ارشاد مسئولینو په ټولو ولایتونو کې د نصاب د تدریس ترڅنګ اصلاحي بیانونه، دیني ارشادات او اصلاحاتي خپرونې په منظمه توګه پلې کړې، چې پایلې یې مثبتې ارزول شوې دي. د یادو هڅو په پایله کې د کارکوونکو دیني پوهه پیاوړې شوې، د ښوونیز نصاب تطبیق اغېزمن شوی او د اصلاحي پروګرامونو د اغېزمنتیا څرګندې نښې لیدل کېږي، چې دا ټول د دعوت او ارشاد د سپېڅلې موخې د تحقق او د سالم، اخلاقي او اسلامي ښوونیز چاپېریال د رامنځته کېدو په برخه کې مهم ګامونه بلل کېږي.

## سفر رئیس تشکیل وزارت معارف به ولایت تخار

محترم مفتی عبدالحلیم حلیمی رئیس تشکیل وزارت معارف طی سفری به ولایت تخار با محترم مولوی محمد اسماعیل ابو احمد رئیس معارف آن ولایت دیدار و گفتگو نمود.
رئیس تشکیل وزارت معارف هدف از سفر خویش به آن ولایت را متوازن سازی تشکیل مکاتب و مدارس عنوان کرده و خاطر نشان ساخت که تشکیل وزارت معارف در سطح تمام ولایات کشور باید متوازن شود.
وی افزود: به منظور جلوگیری از تورم تشکیلاتی، بست‌های استادان و معلمان باید مطابق به نیازمندی مکاتب و مدارس دینی اعیار شود. در ادامه رئیس معارف ولایت تخار پیرامون وضعیت تعلیم وتربیه و تشکیل موجوده معارف ولایت یاد شده معلومات داده و از ابتکار وزارت معارف در خصوص متوازن سازی تشکیل اظهار سپاسگزاری کرد.

## د کابل په سروبي ولسوالۍ کې ۱۰ بابه ښوونځي بیا ورغول شول

د کابل ولایت په سروبي ولسوالۍ کې د یوه همکار بنسټ په مالي مرسته د ۶.۸ مېلیونه افغانیو په لګښت ۱۰ بابه ښوونځي له بیا ورغولو وروسته د کابل ولایت د پوهنې ریاست مسئولینو له لوري ګټې اخیستنې ته وسپارل شول.
د کابل ولایت د پوهنې ریاست د مسوولینو په وینا د بیارغونې په دې پروژو کې د ښوونځیو داحاطوي دېوالونو جوړول، د دروازو او قلفونو نصبول، د اوبو رسونې او روغتیایي جوړښتونو فعالول، د ښیښو نصب، د ځنباک پاکو اوبو څاګانو کیندل او نور اړینې برخې شاملې دي.
ددوی په وینا د یادو پروژو په بشپړېدو سره د سروبي ولسوالۍ سلګونو تنه زده کوونکو ته د زده کړې مناسب او خوندي چاپېریال برابر شوی دی.



## کمک مواد درسی برای بیش از ۴۰ هزار شاگرد در ولایت لوگر

در ۲۸۹ باب مکتب ولایت لوگر ۲۰۹۲ بسته مواد درسی به ارزش ۱۲ میلیون و ۳۵۲ هزار افغانی از سوی یک نهاد همکار مساعدت شده که به ۴۱۸۸۰ تن شاگرد صنوف اول الی پنجم توزیع گردیده است. به گفته مسئولان ریاست معارف ولایت لوگر با دریافت این کمک ها روند آموزش شاگردان بیشتر از گذشته تقویت خواهد شد.


## آغاز کار ساخت صنوف درسی برای یک باب مکتب در ولایت زابل



سنگ تهداب ۷ باب صنف درسی و یک اتاق اداری برای لیسه مرکزی ولسوالی شملزی ولایت زابل گذاشته شد.
به گفته مسئولان ریاست معارف آن ولایت این صنوف در مساحت ۱۰ جریب زمین که از سوی اهالی محل وقف شده است اعمار می گردد. هزینهٔ مجموعی ساخت صنوف و زمین وقف شده حدود ۳۶۰ هزار افغانی تخمین شده که به حمایت مالی مردم محل و شورای مکتب ساخته می‌شود.
به گفته مسئولان معارف با ساخت این صنوف برای حدود ۵۰۰ تن شاگرد محیط آموزشی مناسب و معیاری فراهم می شود.

## پکتیا ولایت کې تیر کال د تدریس کیفیت لوړولو په موخه له زرګونو ټولګیو څخه څارنه تر سره شوې

په پکتیا ولایت کې د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري د ۱۴۰۴ ښوونیز کال په بهیر کې د ښوونکو د تدریس کیفیت لوړولو په موخه ۱۰۳۹۸ ټولګیو څخه لیدنې ترسره شوې.



د دې لیدنو پر مهال د ښوونکو تدریسي میتودونه، د زده‌کوونکو سره تعامل، د درسي توکو کارونه او د درس وړاندې کولو لارې چارې له نږدې ارزول شوې او ښوونکو ته د اغېزمن تدریس په اړه لازمې لارښوونې او مسلکي مشورې ورکړل شوې دي.
د یاد ولایت د پوهنې ریاست مسئولین ټینګار کوي چې دا ډول منظمې لیدنې د ښوونکو وړتیا لوړولو او د زده‌کوونکو د زده‌کړې د لا ښه والي په برخه کې اغېزمن ګام دی.

## آغاز کار ساخت تعمیرات جدید برای آمریت‌های معارف سه ولسوالی در ولایت غور

سنگ‌تهداب تعمیرات جدید آمریت‌های معارف ولسوالی‌های دولینه، پسابند و تیوره در ولایت غور از طرف محترم الحاج مولوی غلام‌محمد کاظم، رئیس معارف این ولایت به هزینه مجموعی ۱ میلیون و ۶۵۰ هزار افغانی از بودیجه وزارت معارف گذاشته شد.
رئیس معارف ولایت غور هنگام گذاشتن سنگ‌تهداب این ساختمان‌ها گفت؛ آمریت‌های معارف ولسوالی‌های یاد شده فاقد تعمیر اداری مناسب بوده که با منظوری بودجه مورد نیاز، کار ساخت پروژه مذکور آغاز شد.
براساس گفته‌های مسئولان معارف آن ولایت تعمیر آمریت معارف ولسوالی دولینه به هزینهٔ ۷۰۰ هزار افغانی دارای پنج اطاق با تمام ملحقات، ساختمان آمریت معارف ولسوالی پسابند به هزینهٔ ۳۵۰ هزار افغانی دارای سه‌اطاق اداری با ملحقات آن و تعمیر آمریت معارف تیوره به هزینهٔ ۶۰۰ هزار افغانی دارای ۸ اطاق با ملحقات آن ساخته می‌شود.

## لنډ خبرونه

### لغمان

شش جریب زمین به هدف ساخت یک باب مدرسه دینی در قریه بره قلعه ولسوالی بادپخ ولایت لغمان از سوی مردم محل وقف شد.
مسئولان ریاست معارف ولایت لغمان می گویند ارزش این زمین که حدود یک میلیون افغانی می‌شود قرار است به کمک و همکاری مردم یک تعمیر تدریسی چهار صنفی که شامل یک حلقه چاه آب آشامیدنی نیز می شود برای این مدرسه اعمار شود.

### غزنی

د اندړ ولسوالۍ اړوند شهاب‌خېل ښوونځي لپاره د ودانۍ جوړولو په موخه، د سیمې اوسېدونکو لخوا دوه جریبه ځمکه وقف شوه.
د غزني ولایت د پوهنې ریاست مسئولینو دغه اقدام د یادې ولسوالۍ په کچه د ښوونې او روزنې د ودې او پرمختګ لپاره ارزښتناک ګام وباله او له هغو کسانو څخه یې مننه وکړه، کوم چې خپله ځمکه یې پوهنې ته وقف کړې ده.

### بامیان

ریاست معارف ولایت بامیان توزیع بسته‌های صحی و مواد آموزشی را برای ۷۰۰ تن از شاگردان بی‌بضاعت و بی سرپرست در مرکز این ولایت آغاز کرد.
این کمک‌ها که با حمایت یک نهاد خیریه فراهم شده، شامل بسته‌های آموزش از قبیل، بکس های مکتب کتابچه، قلم و دیگر لوازم ضروری آموزشی می‌باشد.

### پنجشیر

برای مکتب متوسطه خواجه عبدالعزیز در ولسوالی دره ولایت پنجشیر از سوی محترم حاجی میرویس بهزاد شخص معارف دوست این ولسوالی،به هزینه ۵۰ هزار افغانی کتُب درسی تهیه شد.
به گفته محترم مولوی محمود طالب ثاقب رئیس معارف ولایت پنجشیر، به تعداد ۶۲۵ جلد کتاب شامل صنوف سوم تا ششم برای شاگردان مساعدت شده است.
در همین حال مبلغ ۲۰۰ دالر و ۱۰۰۰ افغانی از سوی برخی از افراد معارف دوست دیگر نیز با معارف آن ولایت کمک شده که با این مبلغ به تعداد ۱۷۸ جلد کتاب دیگر خریداری شد.

### کاپیسا

مسئولان ریاست معارف ولایت کاپیسا از ۲۰۸ تن اطفال مهاجر برگشته به ملک امتحان تثبیت سویه اخذ کرد.
به گفته مسئولان ریاست معارف آن ولایت قرار است شاگردان یادشده بعد از ارزیابی سطح تعلیمی آنان جهت ادامه آموزش به صنوف مختلف مکاتب در ولایت کاپیسا جذب شوند.

### ننگرهار

د ننګرهار ولایت حصارک ولسوالۍ اړوند منه‌خېل منځني ښوونځي د ودانۍ جوړولو لپاره، د یادې ولسوالۍ د علم‌دوسته شخصیت محترم ملک فقیر له لوري ۱۶ بسوې ځمکه وقف شوه.
د پوهنې وزارت مشرتابه د ملک فقیر له دغه نېک اقدام څخه د مننې ترڅنګ وایي چې، د ملک د ښوونیز نظام پرمختګ د تعلیمي نظام له پرله‌پسې ملاتړ سره تړلی دی.

### کابل

ریاست معارف شهر کابل در نزدهمین مرحله امتحانات تثبیت سویه تعلیمی از ۳۰۰ تن اطفال مهاجرین برگشته به هدف جذب شان به مکاتب شهر کابل، امتحان ارزیابی سطح تعلیمی اخذ کرد.
قابل یادآوری است که ریاست معارف شهر کابل پیش از این نیز در ۱۸ مرحله از ۵۰۸۰ تن از هموطنان بازگشته امتحان گرفته و آنان را بر اساس لیاقت آنان در صنوف مختلف مکاتب مربوطه جذب کرده است.

# لوی فکر وکړه

هر لوی بریالیتوب، مخکې له دې چې په ریښتیني نړۍ کې رامنځته شي، د انسان په ذهن کې رامنځ ته کېږي. کله چې ته د لوی فکر کولو جرئت کوې، په حقیقت کې د محدودیتونو پولې ماتوې او ځان ته اجازه ورکوې چې له خپلو اوسنیو شرایطو څخه پورته ګام واخلې.
هغه کسان چې لویو لاسته راوړنو ته رسېدلي دي، لومړی یې په خپل ذهن کې باور درلود چې دوی یې کولای شي. هغوی خپل خوبونه کوچني نه کړل، بلکې خپل ذهن یې دومره لوی کړ چې د هغوی خوبونه پکې ځای شي. نو که غواړې لویو موخو ته ورسېږې له نن څخه خپل فکر بدل کړئ. د ماتې له وېرې پر ځای، بریالیتوب ته فکر وکړه. د محدودیتونو پر ځای فرصتونو ته پام وکړه.
په یاد ولرئ! هر څه چې په خپل ذهن کې باور کړئ، کولای شئ په خپل ژوند کې یې جوړ کړئ.

# د پلي ګرځېدو ۷ حیرانوونکې ګټې


هغه خلک چې ډېر فزیکي کار نه کوي، د دوی لپاره قدم وهل یو له غوره ورزشونو څخه دی او که غواړې له خپلې روغتیا سره مرسته وکړې نو قدم وهلو ( پلي ګرځیدو) ته خامخا وخت پیدا کړه.
پلي ګرځېدل ډېرې ګټې لري چې د ځېنو ګټو یې په لاندې توګه یادونه کوو.

**۱ ـ د اندام تناسب برابروي**

پلي ګرځېدل او قدم وهل د اندام د تناسب د برابرولو لپاره تر ټولو آسانه ورزش دی. دا د هر عمر د خلکو لپاره مناسب دی. منظم او چټک قدم وهل ستاسو د وینې فشار کنترولوي. همدوکي مو پیاوړي کوي او که وزن مو ډېر وي کموي یې.
ډاکټران وایي: په منظمه توګه پلي ګرځېدل، د ځېنو ناروغیو لکه استما شکرې، دزړه سکتې او ځینو سرطانونو د خطر په کمولو کې اغېزمن ثابت شوي دي.

**۲ ـ له اندېښنو خلاصون**

په ګڼو څېړنو کې د پلي ګرځېدو او د رواني روغتیا د ښه کېدو ترمنځ اړیکې موندل شوي دي.



منظم قدم وهل د اندېښنې او اضطراب په کمېدو کې ډېر مؤثر ګڼل شوی دی.

**۳ ـ له ښه خوب سره مرسته کوي**

څېړنې ښیي، په منظمه توګه قدم وهل ځېنې هورمونونه لکه میلاټونین زیاتوي چې په ښه خوب کولو کې مرسته کوي.

**۴ ـ د فکر کولو ځواک زیاتوي**

د نړۍ لوی شاعران او لیکوالان خپل ښه اثار د قدم وهلو زېږنده بولي. دوی په دې اند دي چې ذهن او پښې ژوره ګډه اړیکه لري چې په قدم وهلو ذهن د فکر کولو ځواک ترلاسه کوي.

**۵ ـ پلي ګرځیدل سمسوروي**

نه یوازې دا چې پلي ګرځیدو سره سمسورې او شنې سیمې وینئ بلکې روغتیاپالان وایي، ورسره سمسورېږئ. که مو کار ځای ته د موټر پر ځای پلي ولاړ شئ ، نو د چاپیریال له سمسورتیا سره په مرستې سربېره به په لاره کې ددې فرصت ولرئ چې آزاده هوا تنفس کړئ.

**۶ ـ د تصور ځواک پیاوړی کوي**

ښه ده چې کله ناکله د ښار له واټونو او کوڅو ور هاخوا په آزاده فضاء کې قدم ووهئ. دا قدم وهل به په ښار کې لیدلي ګډوډ تصورات درته په نویو ښکلو او سمسورو انځورونو بدل کړي.

**۷ ـ پر ځان اعتماد زیاتوي**

قدم وهل یو له هغو څو ورزشونو څخه دي چې تاسو کولی شئ هم خبرې وکړئ او هم قدم ووهئ. څو کله ناکله د څو ثانیو لپاره دمه وکړئ، څو ستاسو شخه د چاپېره طبیعت خاموشي خپله کړی شئ.

## از همین‌جا شروع کنید

جوانی بهترین زمان برای ساختن آینده‌ای است که همیشه در ذهن‌تان داشته‌اید. شاید این مسیر سخت باشد، شاید گاهی خسته شوید یا حتی بخواهید تسلیم مشکلات شوید، اما به یاد داشته باشید که هر قدم کوچک تان شما را به رؤیاهایتان نزدیک‌تر می‌کند. شکست‌ها پایان راه نیستند؛ آن‌ها درس‌هایی هستند که شما را قوی‌تر و آگاه‌تر می‌سازند.
به خودتان باور داشته باشید، حتی زمانی که دیگران شک دارند. توانایی‌های شما بیشتر از چیزی است که تصور می‌کنید. اگر امروز تلاش کنید، فردا نتیجه‌اش را خواهید دید. از فرصت‌ها استفاده کنید، از اشتباهات نترسید و همیشه در حال رشد باشید. آینده متعلق به کسانی است که برای آن تلاش می کند، نه کسانی که فقط درباره‌اش خیال‌پردازی می‌کنند. امروز شروع کنید، حتی با یک قدم کوچک.

# د ماشومانو په سالمه روزنه کې د کورنۍ مسئولیت

**شېرمحمدامیني ستانکزی**

ماشومان په کورونیو کې د نن ورځې کوچني غړي دي؛ خو د سبا ورځې د ټولنې پراخ، پیاوړي او روښانه راتلونکی جوړوي. له همدې امله اړینه ده، چې خپل اولادونه له همدا اوس نه په سمه، سالمه او په ښه تربیت سره وروزو. د ماشوم ښه روزنه یوازې د ښوونځي یا تعلیمي بنسټونو مسئولیت نه دی؛ بلکې تر هر څه وړاندې د مور او پلار اساسي دنده او ستر مسئولیت ګڼل کېږي.
د ماشوم شخصیت جوړونه د ژوند له لومړیو شپېو پیلېږي. د مور غېږه د ماشوم لپاره لومړنی ښوونځی دی، ځکه د ماشوم ذهن په دې پړاو کې د سپین کاغذ په څېر وي. هغه څه چې ماشوم په دې وخت کې ویني، اوري او احساسوي د هغه پر راتلونکي ژوند ژور اغېز کوي. له همدې امله مور او پلار باید د خپلو خبرو، کړنو او چلند په اړه ډېر هوښیار او محتاط واوسي.
ماشومان باید په مینه، زغم او صبر وروزل شي. هر ډول توند غبرګون، وهل، سپکاوی او پرله‌پسې له یوه کاره منعه کول د ماشوم په ذهن کې ضدیت، ویره او بې‌باوري پیدا کوي. غوره دا ده چې ماشوم ته په آرامه لهجه، ښه مثال او منطقي دلایلو سره لارښوونې وشي، څو پخپله د سم او ناسم تر منځ توپیر وکړي.
د فکري ودې تر څنګ، ماشومانو لپاره دیني اخلاقي او ټولنیزه روزنه هم ځانګړې ارزښت لري. ماشومان باید له کوچنیوالي د دین له بنسټیزو ارزښتونو، د خدای تعالی له پېژندنې رښتینولۍ، امانتدارۍ او د عبادت له مفاهیمو سره بلد شي. همدارنګه د ملک سره مینه او ټولنیز مسئولیت باید ورو ورو د هغوی په ذهن کې ځای پر ځای شي.
ماشوم د کور له چاپېریاله زده کړه کوي، که په کور کې بدې خبرې، جګړې، دروغ، سپکاوی او بې‌احترامي موجوده وي، ماشوم هم دا کړنې عادي ګڼي او په خپله یې هم عملي کوي.
له همدې امله اړینه ده، چې د کورنۍ فضا د مینې، درناوي، تفاهم او یو بل د منلو پر بنسټ ولاړه وي. ماشوم ته ښکنځل ورښودل یا ناوړه خبرې ورسره کول د روزنې او پالنې پر وړاندې ستره تېروتنه ده.
کله، چې ماشوم ناسم کار ترسره کړي، باید په نرمه، عاقلانه او ښوونیزه طریقه ورسره چلند وشي. د وهلو او سزا پر ځای باید د هغه کار پایلې، زیانونه او بدې اغېزې ورته تشریح شي. دا ډول چلند د ماشوم فکر پیاوړی کوي او هغه د سرکشۍ، وېرې او کینې څخه ژغوري.
ماشومان باید د خبرو کولو، پوښتنو او خپل نظر څرګندولو فرصت ولري. که یې خبرې ناسمې هم وي، باید په درناوي، حوصلې او نرمۍ اصلاح شي، نه په سپکو او توهین لرونکو خبرو باندې. دا طریقه نه یوازې د ماشوم اعتماد او ځان‌باوري پیاوړې کوي؛ بلکې ټولنې ته یو متوازن، بااخلاقه او مسئول انسان وړاندې کوي.
په پایله کې ویلی شو، چې د ماشوم سالمه روزنه د یوې سالمې ټولنې بنسټ جوړوي. که مور او پلار له کوچنیوالي د مینې، اخلاقو، دیني ارزښتونو او سمې لارښوونې له لارې خپل اولادونه وروزي، نو په راتلونکي کې یه روښانه، خوشحاله او هوسا ژوند ولري.

## این کلمات را همیشه با دل پر از توکل به خداوند متعال بگو

- خدایا، آبرویم را حفظ کن، خودت نگهدار من باش و مرا به بنده‌هایت محتاج نکن.
- خدایا، هیچ‌گاه مرا به کسی وابسته نکن که قرار نیست در مسیر زندگی‌ام حضور داشته باشند.
- خدایا، حال من را چنان خوب کن که هیچ انسانی نتواند آن را تغییر دهد.
- خدایا، درهای رحمتت را به روی من بگشا که هیچ‌کس نتواند آن را ببندد.

Marif
Weekly

کتنپلاوی: شیخ محمد طاؤس «طارق»
مولوي عزیز احمد «ریان»
مفتی حبیب الله «قتاده نوري»
احمد شعیب «حقیقي»
عبدالصبور «غفراني»
محمد نسیم «عیاذ»

مسئول مدیر: سعید «جلال»
انځور اخیستونکی: محمد ادریس «نوري»

صفحه آرا : محمد قسیم «یعقوبي»
شمېر : ۳۰۰۰
پته: کابل ښار، غازي محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت د نشراتو او عامه اړیکو ریاست، د نشراتو او عامه پوهاوي آمریت

**د پوهنې کاروان مینه والو!**
تاسو کولای شئ خپلې لیکنې، وړاندیزونه او نیوکې په لاندې برېښنا لیک او تلیفون شمېرې له موږ سره شریکې کړئ.
Marifnewspaper1919@gmail.com
د اړیکې شمېره: ۰۷۲۸۴۰۷۲۷۲

Ministry of Education Cultural and Social Issue / Better Education - Better Future / Established 2002, Issue No 324 /2026


# نتایج «امتحانات معیاری یکسان و متمرکز» شاگردان صنوف دهم مکاتب شهر کابل با ادارات مکاتب شان شریک شد



معینیت تضمین کیفیت وزارت معارف سال گذشته از حدود ۳۷ هزار شاگرد صنف دهم مکاتب رسمی و خصوصی شهر کابل امتحان معیاری یکسان و متمرکز اخذ کرد که نتایج آن در حضور محترم الحاج مولوی عبدالخالق صادق معین تضمین کیفیت، شماری از رؤسای مرکزی و مسئولان وزارت معارف، کارشناسان امور تعلیم و تربیه و نمایندگان مکاتب با ادارات مربوطه شریک شد.

در این مراسم، مسئولان در رابطه به چگونگی تطبیق، گسترش و تقویت بیشتر این روند در آینده بحث‌های مفصل کرده و پیرامون آن ابراز نظر کردند.

معین محترم تضمین کیفیت وزارت معارف ضمن قدردانی از تمام نهادهای دخیل در تطبیق بهتر این فرایند، تأکید کرد که این روند نقش کلیدی در ارتقای کیفیت آموزشی دارد.

قابل ذکر است که در آینده نزدیک این روند نه تنها در کابل؛ بلکه به سایر ولایات ملک نیز گسترش خواهد یافت تا زمینه ایجاد یک نظام نظارتی واحد، عادلانه و مؤثر امتحان فراهم شود.

## د هلمند په دیشو ولسوالۍ کې د لومړي ځل لپاره یو باب معیاري ښوونځی پرانیستل شو




د هلمند ولایت په دیشو ولسوالۍ کې د خالد بن ولید رضي الله تعالی عنه په نوم یو باب ښوونځی د یوې غونډې په ترڅ کې چې په کې د سیمې یو شمېر علماءکرامو، قومي مشرانو او سپین ږیرو ګډون کړی وو د پوهنې ریاست د مسئولینو له لوري پرانیستل شو.

د یاد ولایت د پوهنې ریاست مسئولین وایې د دیشو په ولسوالۍ کې چې د هلمند یوه لیرې پرته ولسوالۍ ده تر دې وړاندې هېڅ ښوونځي شتون نه درلود چې له نېکه مرغه د پوهنې وزارت په ځانګړې پاملرنې سره په دې سیمه کې د یوه همکار بنسټ په مالي مرسته د ۱۲.۵ مېلیونه افغانیو په لګښت د ښوونځي دغه ودانۍ چې ۶ درسي ټولګي، دوه اداري خونې او نور اړین ملحقات لري جوړه شوه.

د پوهنې ریاست مسئولین زیاتوي چې ددې ښوونځي په جوړېدو سره د سیمې په سلګونو تنه زده کوونکو ته د زده کړې زمینه برابره شوه.

په همدې حال کې د سیمې اوسېدونکو هم د یاد ښوونځي له جوړېدو خوښي څرګنده کړه او د علم او پوهې په وده کې یې د پوهنې وزارت هڅې وستایلې.

## په بامیان کې د راستنو شویو سلګونو کډوالو ماشومانو څخه د تعلیمي سویې د تثبیت آزموینه واخیستل شوه

د بامیان ولایت پوهنې ریاست د راستنو شویو ۲۵۳ تنه کډوالو ماشومانو څخه د هغوی د تعلیمي سویې د تثبیت په موخه آزموینه واخیسته. د یاد ولایت د پوهنې رئیس محترم قاري عنایت الله سهار راستنو شویو کډوالو ته د هرکلي ترڅنګ وویل: د پوهنې وزارت د ملک بچیانو ته د ښوونې او روزنې د مناسبو شرایطو برابرولو په موخه شپه او ورځ هڅه کوي. نوموړي زیاته کړه چې یاد ماشومان به د هغوی د تعلیمي سویې سره سم ددوی د استوګنې سیمو د مدارسو او ښوونځیو په بیلابیلو ټولګیو کې شامل شي او خپلو زده کړو ته به دوام ورکړي.



## په زابل ولایت کې د یو باب ښوونځي د بنسټ ډبره کېښودل شوه




د زابل ولایت د پوهنې ریاست مسئولینو له لوري د نوبهار ولسوالۍ اړوند د کرم‌خیلو لومړني ښوونځي لپاره د نوې ودانۍ جوړېدو د بنسټ ډبره کېښودل شوه.

د یاد ولایت د پوهنې ریاست مسئولین وایې چې د ښوونځي دا ودانۍ د ښوونځي شورا او د سیمې د علم دوسته اوسېدونکو په مالي مرسته جوړېږي، چې ۴ درسي ټولګي او یوه اداري خونه به ولري دوی زیاتوي چې د سیمې اوسېدونکو د ښوونځي لپاره یو جریب ځمکه هم وقف کړې ده.

د زابل ولایت د پوهنې ریاست د مسئولینو په وینا ددې ښوونځي په جوړېدو سره به د یادې سیمې په سلګونو تنه زده کوونکو ته د زده کړې مناسب او خوندي چاپېریال برابر شي.

## په کندز ولایت کې د یو باب ښوونځي د بنسټ ډبره کېښودل شوه




د کندوز ولایت مرکز اړوند د نوآباد اندرابیو لومړني ښوونځي د ودانۍ د بنسټ ډبره د پوهنې په برخه کې د یوه همکار بنسټ په مالي ملاتړ د شاوخوا ۸ میلیونه افغانیو په لګښت کېښودل شوه.

دکندز ولایت د پوهنې ریاست مسئولین وایې یاده ودانۍ به ۶ درسي ټولګي، یوه اداري خونه، د پاکو اوبو څاه او نور اړین ملحقات ولري. د مسئولینو په وینا د دې ښوونځي په جوړېدو سره به د یادې سیمې نږدې ۳۰۰ تنو زده‌کوونکو ته د زده‌کړو مناسب او خوندي چاپېریال برابر شي.

## سنگ تهداب یک محراب مسجد در صحن آمریت معارف ولسوالی لعل و سرجنگل ولایت غور گذاشته شد

سنگ‌تهداب ساخت یک محراب مسجد در صحن آمریت معارف ولسوالی لعل و سرجنگل ولایت غور با حضور مسئولان معارف و بزرگان محل گذاشته شد.

مسئولان آمریت معارف ولسوالی لعل و سرجنگل ولایت غور می‌گویند که کار ساخت این مسجد با حمایت مالی اعضای معارف و همکاری مردم محل آغاز شده و هزینهٔ اولیه آن حدود ۲۵۰ هزار افغانی تخمین شده است.

به گفته مسئولان معارف مساحت این مسجد ۵۴ متر مربع خواهد بود که با تکمیل شدن کار ساخت آن در یک وقت گنجایش ده ها نماز گزار را خواهد داشت.




**وزارت معارف به عرضه خدمات تعلیمي و تربیتی با رعایت ارزش های دین مقدس اسلام متعهد است**